**بسم الله الرحمن الرحیم**

# روسيې اعلان کړه چې د اوربند موخه له غوطې څخه د خلکو اېستل دي

**(ژباړه)**



د ۲۰۱۸ م د مارچ په لومړۍ نېټه د روسيې دفاع وزارت وويل: (موږ داسې معلومات تر لاسه کړي چې تېره ورځ د لوديځې غوطې اوسېدونکو د حقوق بشر له مدافعينو څخه د مرستې او هغه سيمې چې د وسله والو ډلو په ولکه کې دژر د اېستلو غوښتنه کړې. سرچينه: رشين ټوډې خبرپاڼه) همداراز نن يادې خبرپاڼې د روسيې له انترفاکس خبرپاڼې څخه نقلوي چې د روسيې دفاع وزير سرگي شويگو د امريکا استازي ډې مستورا ته داسې پيغام واستاوه چې؛ د روسيې د پوځ اداره هڅه کوي ترڅو د غير نظاميانو د ژغورنې لپاره سوله وکړي چې د روسيې دغه مرکز په حميم، لاذيقه حومه کې دی، چې د سوريې له لوړپوړو سره په همغږۍ، غير نظاميان، ناروغان او ټپيان به په يو برياليي عمليات سره له ختيځې غوطې څخه بهر کړي او په ۲۰۱۸م د فبروري په ۲۷مه د روسيې ولسمشر دستور ورکړ چې د انسان دوستۍ لپاره دې يوه ورځنۍ اوربند اعلان شي.

له دې اوربند څخه موخه یوازې او یوازې له غوطې څخه یې د اوسېدونکو ایستل او له هغه وروسته پر غوطې واک درلودل دي چې د انقلابیانو  د له منځه وړلو  لپاره یې د استانې ناسته کې اوربند اعلان کړ او په ترکیه یې چې ددې پرېکړې ضامنه وه اعتماد وکړ .ترکیه چې د دې پرېکړې ضامنه وه انقلابیانو ته یې هیڅ نه دي کړي، بلکې عفرین ته یې د هغوی د پام اړولو او واقعي سنګرونو څخه د لرې کولو او دمشق ته د داخلېدو لپاره توطیه جوړه کړه،  همدارنګه ترکیې او سعودي هم دمشق ته د انقلابیانو د داخلیدو مخه ونیوله او هغوی یې اړ کړل چې څو کلونه له دې پرته چې د دمشق پر مرکز برید وکړي او د مجرم بشار حکومت وپرځوي په غوطه کې پاتې شول.

خو حزب التحریر انقلابیان له دې ټولو توطئیو او دسسیو څخه خبرول، هغوی ته یې ګواښ کاوه او له هغوی څخه یې غوښتل چې د ترکیې او سعودي خبرو ته غوږ ونه نیسي او د جنایتکار حکومت د له منځه وړلو لپاره دمشق ته ننوځي .

**حمزه" پارسا"**